

# سلطنت

لیکوال: ثناالله طوطاخیل

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library





## د کتاب ځانګړتیاوې

---

**کتاب نوم:** سلطنت

**موضوع:** اسلامی اقتصاد

**لیکوال:** ثناالله طوطاخیل

**ډیزاین چارې:** ثناالله طوطاخیل

**چاپ کال:** ۳ / ۸ / ۱۴۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



## عناوین

**د عامه ذهنیت بدلون.........................................................1**

**د رسنیز کمپاین اهمیت.......................................................2**

**د بهرنیانو لپاره سهولتونه...................................................4**

**د بهرنیو پانګوالو جذب....................................................... 5**

**د بازار موندنې 10 لارې......................................................7**

**د سولر او بادي انرژۍ تولید ................................................9**

**د کارموندنې لپاره ستراتیژي ( Strategy for Employment Generation):..............................................................11**

**مصنوعي هوش ..............................................................13**

**د کتابونو چاپ...................................................................15**

**د کتابونو چاپ لپاره جایزې یا مرستې..................................16**

**د ځوانانو هڅونه په لاندې ډول ممکنه ده..................................17**

**د ټکنالوجۍ معرفي.............................................................19**

**د قومونو تر منځ همکارۍ...................................................20**

د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فابريکي جوړښت ........................................................22**

**د شکايت ثبت سيستم......................................................23**

**د لاسته راوړنو تحليل......................................................24**

**د زده کړو مهارتونه.......................................................26**

**د مهارتونو وده............................................................28**

**د مالياتو تخفيف...........................................................29**

**مکتوب.......................................................................31**

**عملي آنلاين کاروبارونه.....................................................33**

**د کورنيو محصولاتو ملاتړ....................................................35**

**د توليد زياتولو لارې.........................................................37**

**عرضه او تقاضا د اسلام له نګاه..........................................38**

**د بازار تعادل د اسلام له نګاه...........................................39**

**د سهامي شرکتونو جوړښت ( Joint-stock companies structure) ..............................................................40**

**اسعارو سياست (Monetary Policy) په اسلامي اقتصاد کې....44**

**د دولت رول په اقتصاد...................................................46**

**د پانګونې هڅونه او بازار ثبات.........................................47**

**صنعت.........................................................................48**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د اقتصاد او علم اړیکه....................................................50**

**وارداتو او صادراتو سیاست............................................52**

**واردات او صادرات د اسلام له نګاه..................................55**

**د انرژۍ اقتصاد............................................................57**

**صنعت او تولید..............................................................59**

**میکرو اقتصاد بنسټونه....................................................60**

**د تور بازار اغېز Black Market Impact ......................62**

**تور بازار د اسلام له نګاه..................................................64**

**تاجر د اسلام له نګاه.......................................................65**

**د قاچاق اقتصادي تاوان....................................................67**

**د کار بازار (Labour Market) او بېکارۍ**

**(Unemployment ) ..................................................69**

**د پارک بدلون په کتابتون.................................................71**

**درې اړخیزې همکارۍ....................................................73**

**سافټویر او اپلکیشن جوړونه...........................................76**

**د سافټویر او اپلکیشن جوړونې لپاره فعالیتونه......................78**

**د آفتابي (شمسي) او بادي انرژۍ لپاره د شریک کاروبار طرحه..80**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د عوایدو یا مالیاتو د شریکولو میکانېزم..................................81**

**مهارتونه لوړول...............................................................83**

**افغانی هنرونه.................................................................86**

**د کورني تولید بازار……………………………………87**

**موخذونه.......................................................................88**

**معرفی............................................................................91**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**موږ دا کتاب ستاسو لپاره ځکه ولیکه چی تاسی خپل اقتصادی او فکری نظریات موږ سره شریک کړی تر څو موږ ستاسی لیکنی په خپل کتاب کی ثبت کړو او د خپل مظلوم ولس لپاره د خدمت مصدر وګرځو همداسی د هیواد لپاره په خپله کار وکړو. باید موږ خپل ځوانان په داسی فکرونو وروزو چی نه د خپل ځان لپاره بلکه د خپل هیواد او د خلکو لپاره خدمت نمومه وګرځی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د عامه ذهنیت بدلون




د عامه ذهنیت بدلون د ټولنې په پرمختګ کې یو له مهمو عواملو څخه دی. کله چې د خلکو افکار، باورونه، او چلندونه مثبت او پرمختللي شي، نو دا د ټولنیز، اقتصادي او کلتوري پرمختګ سبب ګرځي. د ذهنیت بدلون هغه پروسه ده چې په ترڅ کې یې خلک زاړه، ناسم یا منفي نظرونه او عادتونه پریږدي او نوې پوهه، ارزښتونه او چلندونه خپلوي. د عامه ذهنیت د بدلون لپاره لومړی شرط پوهاوی او تعلیم دی. خلک باید د بدلون اړتیا او ګټې په واضح ډول درک کړي. د دې لپاره باید رسنۍ، ښوونځي، ټولنیزې غونډې، او عامه کمپاینونه وکارول شي څو د بدلون اړین پیامونه تر خلکو ورسول شي. دا پروسه باید د خلکو د فرهنګي ارزښتونو، عنعناتو، او دیني باورونو په درناوي ترسره شي، ترڅو خلک مقاومت ونه کړي. د ذهنیت د بدلون بله مهمه برخه د مثال ښودل دي. کله چې خلک په خپلو ټولنو کې د بدلون مثبت نتایج وګوري، لکه اقتصادي پرمختګ، روغتیایي ښه والی، یا ټولنیز عدالت، نو هغوی د بدلون هڅه کوي او نوی چلند خپلوي. په دې ډول، د عامه ذهنیت بدلون نه یوازې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرد په کچه، بلکې د ټولنې په کچه هم رامنځته کېږي. د عامه ذهنیت په بدلون کې دوامداره هڅې اړینې دي. بدلون یو وختنی کار نه دی؛ بلکه دا یوه اوږدمهاله پروسه ده چې باید په کې د مختلفو برخو تر منځ همغږي وي. حکومتونه، غیر دولتي سازمانونه، دیني عالمان، ښوونکي، او رسنۍ باید په ګډه کار وکړي ترڅو د عامه ذهنیت بدلون په مؤثر ډول پیاده شي.

## د رسنیز کمپاین اهمیت




د عامه پوهاوي لوړولو لپاره رسنۍ د خلکو ذهن ته پیغام رسوي، ستونزې روښانه کوي او د حل لارې وړاندیزوي.

مثلا: کمپاین خلک هڅوي چې له یوې پروژې یا نوښت سره علاقه او ملاتړ وښيي. شفاف او هدفمند رسنیز پیغام د باور فضا رامنځته کوي.او د پروژې، اهدافو، لاسته‌راوړنو او اړتیاوو په اړه مالومات تر خلکو رسوي. د ناسمو دودونو، ناوړه عادتونو لکه( نشه) ضد مبارزه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرسته کوي.او د محصولاتو، خدماتو یا کاروبار د معرفي او پراختیا لپاره کارول کیږي چې د دولتي او غیر دولتي ادارو همغږي او همکاری ته زمینه برابروي. د رسنیز کمپاین اهمیت 1400 کاله مخکی رسول الله ﷺ بیان کړی او فرمایلی یی دی:

"بلغوا عني ولو آية." یعنی "زما له خوا (دیني پیغام) ورسوئ که څه هم یوه آیه وي." (بخاري، حدیث 3461).

نن سبا د پیغام رسولو لپاره زیات کوششونه شوی لکه د تلیفون له لاری پیغام رسول همداسی د راډیو، رسانی، TV، اخبار ،د اجتماعی شبکی او نور.

رسنیز کمپاین د پیغام رسولو لپاره مؤثره لاره ده، اسلام هم د حقایقو او خیر خپرولو امر کوي.همداسی د ښځو، ځوانانو، محصلینو، او نورو ځانګړو قشرونو لپاره د هم مشارکت او ونډې زمینه برابر کیږی مثال: د مخدره توکو پر ضد عامه پوهاوي کمپاین ، د سهامي کاروبارونو د معرفي او جلب لپاره تبلیغاتي کمپاین ، د محیطي پاکوالي او د زدهکړو، یا خیاطۍ، سولر، او نورو پروګرامونو لپاره کمپاینونه کول او داسی نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بهرنيانو لپاره سهولتونه



د بهرنيانو د جذب او ښه ميلمه پالنې لپاره، بايد په ښارونو کې ځانګړي سهولتونه برابر شي، لکه: د اوسېدو مناسب کورونه او اپارتمانونه ، عصري پارکونه او تفريحي ځايونه چې کلتوري او ټولنيز فعاليتونه پکې وي سوداګريز مرکزونه او بلډنګونه چې په کې رستورانتونه، کيفې، او نړيوال خدمات وي ، ژبني ملاتړ (انګليسي او نورې ژبې) او د معلوماتو لپاره مرکزونه ، د سفر او ترانسپورټ آسانتياوې لکه ټکټونه، کرايې او موټر خدمات ، د امنيت ټينګښت ، قانوني ملاتړ او روغتيايي خدمات ،کلينيکونه چې نړيوال معيارونه پکې پوره وي . دا ټول اقدامات بهرنيان هڅوي چې په هيواد کې پانګونه وکړي، سياحت وکړي او کلتوري تبادله رامنځ ته شي. مثلا په ځاځی اريوب کی د هوټل ، رسټورانټ او بلډينګ جوړول د سياحت کوونکو د خوب لپاره او داسی نور.الله تعالی فرمايی (وَإِنْ أَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ اسْتَجَارَكَ فَأَجِرْهُ حَتَّىٰ يَسْمَعَ كَلَامَ اللَّهِ)

"که له مشرکانو يو تن پناه وغواړي، نو پناه ورکړه تر هغه چې د الله کلام واوري." (التوبة: 6)

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلطنت (اسلامی اقتصاد)

همداسی رسول ص فرمایی : "من آذی ذمّیاً فقد آذاني" یعنی"چا چې ذمي (بهرنی، غیرمسلمان) ته ضرر ورکړ، ما ته یې ضرر ورکړی." (ابو داود)

اسلام د بهرنیانو عزت، امنیت او سهولت تضمین کړی، په ځانګړي ډول که سوله ایز وي.

## د بهرنیو پانګوالو جذب:




بهرني پانګوال هغه کسان یا شرکتونه دي چې له بهرنیو هېوادونو څخه زموږ هېواد ته پانګه، سرمایه یا تخنیکي پوهه راوړي. د هغوی جذب د اقتصادي ودې لپاره خورا مهم دی ځکه چې دا پانګه د تولید، کارموندنې، ټکنالوژۍ او پرمختګ لامل کېږي. ثبات او قانوني امنیت باید د پانګوالو لپاره واضح، ثابت او د قانوني حقونو خوندیتوب یقیني شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنگه د جوازونو، مالیاتو او سوداګرۍ اسنادو ترلاسه کول باید ساده او چټک وي. دولت باید بهرنیو پانګوالو ته مالیاتي معافیتونه، تعرفې کمښت او نور اقتصادي امتیازات ورکړي او د ځایي کارکوونکو لپاره د مسلکي روزنې پروګرامونه برابرول ترڅو بهرني پانګوال د ماهرو کارکوونکو سره همکاري وکړي.

د بهرنیو پانګوالو د جذب لپاره د برښنا، سړکونو، او نورو زیربناوو ښه والی چې د کاروبار لپاره اړین دي چې باید جوړ شی مثلا د آمریکا واردات له صادراتو زیات دی دا جمله دا معنا ورکوی ، کله چی یو هیواد واردات کوی د هغو په مقابل کی هیواد ته پیسی ورکوی چی آمریکا تری واردات کوی نو که چیری واردات له صادراتو زیات وی نو د هیواد اقتصاد له شکست سره مخامخ کیږی ځکه د همدی هیواد پیسی د فرار په حالت کی دی نورو هیوادو ته نو دلیل یی څه ده چی امریکا تر اوسه اقتصادی ضعف نه لری دلیل یی همدا پانګوال دی چی په همدی هیواد کی په میلیاردونو ډالر پانګونه کوی او اقتصاد یی نور هم قوی کیږی. نو باید د حکومت له خوا شفافه اړیکه او ملاتړ له پانګوالو وشی تر څو باور یی زیات شی او پانګونه وکړی. بهرنیو پانګوالو جذب د هېواد اقتصادي ودې، نوښتونو او د نړیوال بازار سره نښلولو لپاره حیاتي او ډیر مهمه موضوع ده.

الله تعالی فرمایی : وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَىٰ (المائدة: 2)

"او په نېکۍ او تقوا کې له یو بل سره مرسته وکړئ."

د بهرنیو پانګوالو جذب یا همدا نیکی که د ملت د خیر، ودې او پرمختګ لپاره وي، دا یوه شرعي همکاري ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بازار موندنې 10 لارې:




1. رسنۍ (تلویزیون، راډیو، اخبار): د اعلانونو، مرکو او راپورونو له لارې بازار ته د محصول یا خدمت پېژندنه.

2. ټولنیزې شبکې (فېسبوک، انسټاګرام، یوټیوب، ټېلېګرام): د پراخ لاسرسي لپاره ارزانه او مؤثره وسیله ده.

3. شفاهي تبلیغات (Word of Mouth): د خوښ مشتریانو لهخوا نور جذبول.

4. نمونه ورکول یا ازمایښتي خدمت: د خلکو لپاره وړیا نمونه یا تجربه وړاندې کول.

5. نندارتونونه او فستیوالونه: د محصول مستقیم معرفي لپاره مؤثره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



6. سوداګريزې غونډې او کنفرانسونه: د سوداګرو او پانګوالو جذب لپاره.

7. برېښناليک او SMS بازارموندنه: د مشخصو مخاطبينو سره مستقيم تماس.

8. ويبسايټ او بلاګ: د معلوماتو شريکولو او آنلاين پلور لپاره.

9. رعايتونه، تخفيفونه او انعامونه: د مشتريانو جذب او وفاداري زياتوي.

10. د همکاريو جوړول: له نورو کاروبارونو يا ادارو سره شراکت.

قرآن کی الله تعالی فرمایی (وَأَعِدُّوا لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّة) يعنی "دوی ته هر څه چمتو کړئ چې ستاسو له وسه وي." (الأنفال: 60) او همداسی په حديث شريف پيغمبر ﷺ فرمایی: "إن الله يحب إذا عمل أحدكم عملاً أن يتقنه."

"الله خوښوي چې کله مو يو کار وکړ، ښه يې وکړئ."

(بيهقي، شعب الايمان)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سولر او بادي انرژۍ تولید



هدف یې د بریښنا د پاکو، ارزانه، دوامداره او چاپېریال ته دوستانه سرچینو څخه ګټه اخیستل، د انرژۍ کمښت جبران، او د خلکو ژوند معیاري کول دی. د سولر انرژي (لمرینه انرژي) د لمر له وړانګو بریښنا تولیدوی. چې د سولر پینلونو (Solar Panels) له لارې کار کوي او د کلیو، ښوونځیو، روغتیایي مرکزونو او فابریکو لپاره مناسب دی. ارزانه، ساتنه‌یې آسانه، او اوږدمهاله حل لاره ده. او بادي انرژي (د باد انرژي) چې د باد توربینونه (Wind Turbines) د باد د حرکت له لارې بریښنا تولیدوي. زیاتره په هغو سیمو کې کارېږي چې هلته دوامدار باد وي او د صنعتي زونونو او زراعتي فارمونو لپاره ښه سرچینه ده.

فواید یې عبارت دی له: د نفت او ډیزل څخه خلاصون ، د چاپېریال نه ککړتیا ، د تولید لوړ ظرفیت ، د وارداتو مخنیوی او کورنی تولید . د تطبیق لارې یې امکان لری د عامه خصوصي مشارکت (PPP) له لارې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیلول ، خلکو ته د کورني سولر سیستمونو چمتو کول ، د فابریکو لپاره سوداګریز سولر پلانونه جوړول ، د باد انرژۍ لپاره مناسبې ساحې مشخصول.

او د دولت رول هم مهمه اغیزه لرى لکه: د پانګوالو لپاره مالی معافیتونه ، د ځمکې اسانه برابرول ، د تکنالوژۍ وارداتو اسانتیا ، د متخصصینو روزنه او ملاتړ . قرآن کی الله تعالی فرمایی: (وَسَخَّرَ لَكُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ دَائِبَيْنِ وَسَخَّرَ لَكُمُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ) یعنی "او لمر او سپوږمۍ یې ستاسو لپاره تابع کړې دي، چې همېشه روان دي..." (ابراهیم: 33)

دا آیت د طبیعي منابعو (لکه لمر او باد) د کاروني مشروعیت او نعمت ښيي. له دې نه د سولر او بادي انرژۍ اخستل د اسلام له نظره یوه ښه استفاده ده. لمر څخه د هغه ذره انرژی اخیستل د سولر لپاره چې همدا ذره هم همیشه په حرکت کی وی همداسی سپوږمی چی په ځمکه کی د جزر او مد همدآرنګه د بادونو په خوزښت کی مهم رول لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کارمونـــــــدنې لپـــــاره ســــــتراتیژي ( Strategy for Employment Generation):



موخـه یـې د بېکـارۍ کمـول، د خلکـو اقتصـادي وضـعیت ښـه کـول، او دوامداره کـار پیدا کـول، پـه ځـانګړي ډول د ځوانـانو، ښـځو او مسـلکي کسانو لپاره دی.

مهمـــې ســـتراتیژۍ: تولیـــدي ســـکتور پراخـــول لکـــه فـــابریکې جـــوړول (زراعتـــي، صـــنعتي، درمـــل جـــوړونې...) . د کوچنیـــو او منځنیـــو کاروبـــارونو (SMEs) ملاتـــړ . او همدارنګـــه د حرفـــوي زده کـــړو پروګرامونه باید موجود وی لکه: د خیاطۍ، ترمیم، ترکاڼۍ، موټر ترمیم، الکترونیک او نورو مسلکونو زده کړه ، د روزنیزو مرکزونو جوړول او د کـار بـازار اړتیـاوو سره سم مهارتونـه ورښـودل. شـریک کاروبارونـه جوړول هم کـولای شـی کارموندنـه زیاتـه کـړی چـی د خلکـو تـر منځ د سـرمایې ګـډول ، د سـهامي شـرکتونو جوړیـدل ، د دولـت او خصوصـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سکتور ګډې پروژې (PPP) جوړول شامل دی. د زراعت او مالدارۍ پراختیا چې د کرنې پرمختللي میتودونه، د لبنیاتو، چرګانو او کبانو فارمونه ، د کرنیزو محصولاتو پروسس او بازار ته رسونه هم کارموندنه زیاتوی. د IT او ټکنالوژۍ پراختیا چې د آنلاین کار (فري‌لانسینګ، ډیزاین، پروګرامینګ...)لپاره زمینه برابروی او د IT زده کړو مرکزونه جوړول هم وزګارتیا له منځه وړی.

د بهرنیو پانګوالو جذب لپاره د هغوی پانګې لپاره قانوني اسانتیاوې ، د امنیت، مالیاتو او ځمکې برابرول او د صادراتو او تولید پراخیدل مهم دی . کار موندنې لپاره د معلوماتي سیستم جوړول لکه د کار غوښتونکو او فرصتونو ثبت او د آنلاین کارموندنې پلیټفارم جوړول ضروری دی.

رسول الله ﷺ وفرمایل:

"ما أَكَلَ أَحَدٌ طَعَامًا قَطُّ خَيْرًا مِنْ أَنْ يَأْكُلَ مِنْ عَمَلِ يَدِهِ."

"هیڅوک بهتره خواړه نه دي خوړلي تر هغو چې له خپل لاسه کار یې کړی وي." (بخاري 2072)

د کارموندنې لپاره ستراتیژۍ باید د خلکو مهارتونه، اړتیاوې، او منابع و ارزوي او له هغه لارې فرصتونه برابر کړي. اسلام کار او هڅه یو عزتناک عمل ګڼي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مصنوعي هوش (AI)




د ټکنالوژۍ او مصنوعي هوش (AI) وده د معاصرې نړۍ یو له مهمو تحولاتو څخه ده. مصنوعي هوش (Artificial Intelligence) دا هغه تکنالوژي ده چې ماشینونه د انسان په څېر فکر کوی، تصمیم نیوی او زده کړه کولی شي.

د AI عموما 4 برخې لری چې عبارت دی له Machine Learning (ماشین زده کړه)، Natural Language Processing (ژبنیز تحلیل)، Computer Vision (د تصویر پیژندنه) او Robotics (روباتونه) دی.

AI بعضی مهمی ګټې لری لکه: د کار سرعت او دقت لوړول د معلوماتو تحلیل آسانوي ، طبي تشخیص، زراعتي تولید،

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلطنت (اسلامی اقتصاد)

سوداګرۍ، تعلیم او حکومتدارۍ په برخه کې پراخ کارول کیږي او داسې نور.

د افغانستان لپاره ښه فرصتونه هم لري لکه د تعلیم ښه کول (آنلاین زده کړه، ژباړه، محتوا) ، د کرنې مدیریت (د حاصلاتو تحلیل) ، د حکومت شفافیت (د معلوماتو مدیریت، شکایتونه ثبت) ،د سوداګرۍ پراختیا (آنلاین بازار، CRM سیستمونه) او نور. په دې برخه کې پرمختګ ته اړتیا شته لکه :قانوني چوکاټ فني متخصصین ، نړیوالې همکارۍ او پانګونه

هدف: د کارونو اتومات، د معلوماتو تحلیل، او غوره پرېکړې.

استعمالونه: روغتیا (تشخیص او درملنه) ، تعلیم (هوښیار ښوونکي) ، زراعت (AI-based سیستمونه) ، امنیت (سرویلیانس او څارنه) برخه کې کیږي.

د AI زده‌کړو لپاره باید کورسونه، ملي پالیسي او پانګونه باید جوړه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کتابونو چاپ:




کتاب چاپول د علمي، فرهنګي او تعلیمي پرمختګ لپاره مهم کار دی. چاپ پروسه کې لاندې مرحلې شاملې دي:

د کتاب محتوا ترتیب او تدوین: لیکوال یا مسلکي ټیم د کتاب متن چمتو کوي، سمون او اصلاح یې کوي.

ډیزاین او ګرافیک: د کتاب مخ، پانه‌بندي، فونټ او بڼکلا ډیزاین کېږي ترڅو لوستونکو ته جالب ښکاره شي.

چاپ پروسه کې د کیفیت کنټرول، وخت او لګښت هم مهم دي. د کتاب چاپ کول د پوهې خپرولو او فرهنګ ودې لپاره حیاتي ګام دی.

قرآن کی الله تعالی فرمایی: (ن وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ )"نون، قسم دی قلم ته او هغه څه ته چې لیکي." (القلم: 1)

او همداسی حدیث شریف کی رسول الله ﷺ وفرمایل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلطنت (اسلامی اقتصاد)

"إذا مات ابن آدم انقطع عمله إلا من ثلاث: صدقة جارية، أو علم يُنتفع به..."

"کله چې انسان مړ شي، عمل یې پرې کېږي پرته له دریو: روانه صدقه، علم چې ترې ګټه اخیستل کېږي..."(مسلم 1631)

کتابونه د علم د خپرولو اساسي وسیله ده، او اسلام کې علم او قلم ته لوړ مقام ورکړل شوی. د لیکوالانو هڅونه د ثواب کار هم دی او د ټولنې فکري وده تضمینوي.

## د کتابونو چاپ لپاره جایزې یا مرستې




مالی مرسته چې چاپ لګښتونو پوره کولو لپاره پیسې یا پور ورکول کیږی. همدارنګه تخنیکی ملاتړ د ډیزاین، تایپ، او ایډیټ کولو کې مرسته او کمک د دولت یا شخصی موسسی یا خلکو له خوا باید ترسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



شی . د موادو برابرولو لپاره باید په یو مشخص ځای کی د کاغذ، رنګ، او چاپ ماشینونو څخه په وړیا یا تخفیف ډول خلک استفاده وکړل شی.

او د کتاب د تبلیغ لپاره رسنۍ کې ځای یا فرصت عامو خلکو ته ورکړل شی او د غوره لیکوالانو او کتابونو لپاره جائزې وټاکل شی همدارنګه چاپ او مشورې کې هم مرسته وکړي

د لیکلو او چاپ په اړه ځانګړي کورسونه او ورکشاپونه باید ارایه شی خصوصا پوهنتونو کی.

د کتاب د پیژندنې لپاره رسنۍ، ټولنیزې شبکې او بازارونه کارول کیږي.

## د ځوانانو هڅونه په لاندې ډول ممکنه ده:



د مهارتونو زده‌کړه او حرفوي روزنه ورکول

د نوښتونو او ابتکاراتو ملاتړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځوانانو لپاره د کارموندنې ځانګړي فرصتونه برابرول

د مشــورتي پروګرامونــو جــوړول ترڅــو د ژونــد مختلفــو برخــو کــې لارښوونه وکړي

د زده‌کړو او تعليمي بورسونو ورکول

د ځوانانو فعال ګډون په ټولنيزو، اقتصادي او سياسي پروژو کې هڅول

د مخکښو ځوانانو پيژندنه او جايزې ورکول

د رهبرۍ او ټيم مديريت مهارتونو روزنه

د سپورتي، کلتوري او هنري فعاليتونو کې ګډون تـه زمينـه برابـرول . دا لارې د ځوانــانو د استعدادونو ودې، بـاور لوړولـو او مثبتو رولونـو تـه د هڅوی د هڅونې لپاره مهمې دي. د علمي څېړنو مرکزونه د نوو مفکورو او ټکنـالوژۍ د پراختيـا لپـاره مهمـې ادارې دي چـې خلـک کـولی شـی پـه مختلفو برخو لکه طب، کرنـه، انجينـري، او ټولنيزو علومو کـې څېړنـې وکړی.

او موخی يې هم د هېواد اقتصادي، ټولنيز او تعليمـي پرمختـګ تـه خدمت کول دي. دغه مرکزونـه د محققينـو، پوهـانو او زده کوونکو تـه د څېړنـې زمينـه برابـروي. حکومـت او خصوصـي سـکټور يـې بايـد ملاتـړ وکـړی ترڅو چی د نوښتونو لړۍ پراخه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلطنت (اسلامی اقتصاد)

## د ټکنالوجۍ معرفي:



ټکنالوجي هغه علوم، وسایل او طریقې دي چې د ژوند آسانتیا، تولید زیاتوالی او ستونزو حل لپاره کارول کېږي. دا د انسانانو لپاره د نوو وسایلو جوړولو او د معلوماتو د راټولولو، ذخیره کولو، او انتقال آسانتیا برابروي.

ټکنالوجي په مختلفو برخو کې کارول کېږي لکه:

معلوماتي ټکنالوجي (کمپیوټرونه، انټرنیټ، سافټویر او نور)

صنعتي ټکنالوجي (ماشینونه، فابریکې، تولیدي وسایل او نور) ، طبي ټکنالوجي (درمل، تشخیص وسایل او نور)

(c) ketabton.com: The Digital Library



انرژي ټکنالوجي (لمريزې، بادي ، نورې سرچينې او نور) .

په ټوله کې، ټکنالوجي د پرمختګ مهم بنسټ دی چې له لارې يې اقتصاد، زده کړه، روغتيا او ټولنيز ژوند ښه کيږي.

قرآن کی الله تعالی فرمایی :وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا مِّنْهُ يعنی "او هر څه چې په اسمانونو او ځمکه کې دي، هغه ستاسو لپاره مسخر کړي دي."

(الجاثيه: 13)دا آيت ښيي چې الله تعالی انسان ته د طبيعت او وسايلو کارولو واک ورکړی، نو ټکنالوجی کارول د الله د نعمتونو څخه مشروع استفاده ده.

## د قومونو تر منځ همکاری:

د مختلفو قومونو تر منځ همکاری د ټولنې د ثبات، سولې او اقتصادي پرمختګ لپاره ډېره مهمه ده. کله چې قومونه په ګډه کار وکړي، نو ټولنيزې ستونزې کمېږي او ګډ اهداف ترلاسه کيږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



د قومونو تر منځ د ګډو موخو ټاکل او پر هغوی کار کول ډېر مهم او ضروری ده. همدارنګه د یو بل کلتور، رواجونو او عقایدو درناوی کول او د خبرو اترو له لارې ستونزې حل کول هم ډېر اهمه موضوع ده.

دولت او خصوصی سکټور باید د ګډو سوداګریزو او تولیدي پروژو جوړولو کی مهمه ونډه ولری چې د ټولو قومونو ګټه پکې وي. سوله او امنیت ته وده ورکولو لپاره د ګډو اقداماتو له لارې د تاوتریخوالي مخنیوی او د سولې ټینګښت ته باید پام وشی او د قومونو تر منځ همغږي او همکاری د یوه پیاوړي، متحد او هوسا هېواد بنسټ دی.الله تعالی فرمايېږ:

(يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا يعنی ")اې انسانانو! موږ تاسو له يوه نارينه او يوې ښځې پيدا کړي ياست، او ملتونه او قبيلې مو در جوړ کړل، چې يو بل وپېژنئ." (الحجرات: 13)

قرآن د قومونو ترمنځ د تعارف او همکاری اصل تائید کړی، نه د جګړې یا توپیر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فابریکې جوړښت :



ځای ټاکل لکه صنعتي زون یا مناسب ځای د ترانسپورت، برېښنا او کارکوونکو له پلوه. په دغه برخه کی باید

قانوني اسناد ولری چی ثبت، جواز او مالیه په کی شامل دی.

د فابریکی د جوړولو لپاره باید د تولید سالون، ګودام، اداري دفترونه ، د کارکوونکو لپاره خونه او تشنابونه او د کیفیت کنټرول برخه باید موجود وی

تخنیکي تجهیزاتو درلودل چی د تولید ماشینونه، د برېښنا سیستم، امنیتي وسایل، هوا تهویه، او نور دی باید موجود وی. قرآن کی الله تعالی فرمایی: وَأَلَنَّا لَهُ الْحَدِيدَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



"او موږ د داوود (ع) لپاره اوسپنه نرم کړه."

(سبأ: 10) دا آیت د صنعت او تخنیک اهمیت ته اشاره کوي. الله تعالی داوود علیه‌السلام ته د وسایلو جوړولو هنر ورکړ، چې د تولید بنسټ دی.

## د شکایت ثبت سیستم:

شکایت ثبت سیستم یوه منظمه او شفافه پروسه ده چې د خلکو ستونزې، نارضایتۍ او وړاندیزونه په رسمي ډول ثبت او تعقیب کیږی. د دې سیستم موخې دا دي چې د خدماتو کیفیت ښه کړي او د خلکو باور زیات کړي. خلک کولی شي خپل شکایتونه په لیکلي، شفاهي یا آنلاین ښه وړاندې کړي چې مهمه یی شفاهی ښه ده . او هر شکایت په یوه مشخص فورمه کې ثبت او د موضوع له مخې یې کټګورۍ ټاکل کېږي. بیا د شکایت جدیت او علتونه د متخصصینو لخوا څېړل کېږي او اړوند مسؤلین د ستونزې د حل لپاره اقدامات کوي.



شکایت کوونکي ته د حل په اړه معلومات ورکول کېږي او د ستونزې تعقیب کیږی. د شکایت ثبت سیستم باید ساده، اسانه او هر چا ته لاسرسی ولري ترڅو خلک په ډاډ سره خپل نظر وړاندې کړي او د حکومت یا ادارو خدمات ښه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلطنت (اسلامی اقتصاد)

خلـک خپـل شـکایتونه کـولای شـی اړونـد وزارتونـو یـا ریاسـتونو تـه د عریضـی پـه شـکل انتقـال کـړی مثلا او کـه چـا د ځینـو نظریـو پـه اسـاس اقتصادی ، سیاسی او یا نوری طرحی جوړی کړی وی کولای شی چی په لومړی قدم کی د پوهنتون پوهنځی او یا د پوهنتون ریاست ته یی انتقال کړی او تایید یی کړی چی صحی ده او بیا یی وزارتونو یا ریاستونو ته انتقال کړی چی هغوی پری جلسه ونیسی خو مهمه دا ده چی د اقتصاد یا صنعت وزارت ته د مکتوب په شکل ورسول شی.

## د لاسته راوړنو تحلیل:




دا هغه پروسه ده چې پکې د یوې پروژې، پلان یا فعالیت پایلې او نتایج په دقیق ډول ارزول کیږي. هدف یې دا وي چې معلومه کړي کوم اهداف ترلاسه شوي، کومې ستونزې موجودې وې، او څه ډول پرمختګونه یا نیمګړتیاوې شتون لري. د لاسته راوړنو تحلیل لاندې ټکي لري:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټاکل شوو اهدافو او معیارونو سره د نتایجو پرتله ، د مثبتو او منفي اړخونو پېژندنه ، د ستونزو او خنډونو تشخيص ، د راتلونکي لپاره د اصلاحاتو وړاندیزونه او د پانګونې یا وخت د اغېزمنتیا ارزونه دا تحلیل مرسته کوي چې د پروژې کیفیت او موثریت وڅېړل شي او راتلونکي پلانونه په ښه توګه جوړ شي. قرآن کی الله تعالی فرمایی:

فَسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ یعنی "که نه پوهېږئ، د علم لرونکو نه وپوښتئ." (النحل: 43)

د لاسته راوړنو تحلیل د پوهانو، متخصصینو له خوا باید وشي، چې نتیجه یې د راتلونکو پریکړو لپاره ارزښتناکه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د زده کړو مهارتونه:




زده کړې یوازې کتابي معلومات نه دي، بلکه هغه عملي او ذهني وړتیاوې دي چې زده کوونکي د ژوند په هره برخه کې ورځخه ګټه اخلي. مهارتونه د زده کړې په بهیر کې د پوهې د ښه جذب او کارونې لپاره حیاتي رول لري او سو مهمی نقطی یی په لاندی ډول دی.

تحلیلي او انتقادي تفکر :چی د مسایلو ژورې څېړنی او مناسب حل لارې موندل په بر کی نیسی.

مسئله حل کول: د ننګونو په وړاندې عملي او ابتکاري لارې چارې غوره کول.

ګروپی همکاری: د ډلې سره په ګډه کار کولو وړتیا او مدیریت.

وخت مدیریت: خپل وخت په موثر ډول پلان او تنظیم کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټیکنالوژۍ کارول: عصري وسایل او پروګرامونه په زده کړه کې کارول.

خپلواکي او ځان زده کړه: د ځان لپاره د نوو مهارتونو زده کړه او پرمختګ.

دا مهارتونه زده کوونکو ته چمتووالي ورکوي چې په پیچلو شرایطو کې بریالي او موثر پاتې شي.د لاسته راوړنو تحلیل:

دا هغه پروسه ده چې پکې د یوې پروژې، پلان یا فعالیت پایلې او نتایج په دقیق ډول ارزول کیږي. هدف یې دا وي چې معلومه کړي کوم اهداف ترلاسه شوي، کومې ستونزې موجودې وې، او څه ډول پرمختګونه یا نیمګړتیاوې شتون لري. د لاسته راوړنو تحلیل لاندې ټکي لري:

د ټاکل شوو اهدافو او معیارونو سره د نتایجو پرتله

د مثبتو او منفي اړخونو پیژندنه

د ستونزو او خنډونو تشخیص

د راتلونکي لپاره د اصلاحاتو وړاندیزونه

د پانګونې یا وخت د اغېزمنتیا ارزونه

دا تحلیل مرسته کوي چې د پروژې کیفیت او موثریت وڅیړل شي او راتلونکي پلانونه په ښه توګه جوړ شي.

قرآن کی الله تعالی فرمایی :فَسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ "که نه پوهیږئ، د علم لرونکو نه وپوښتئ."

(c) ketabton.com: The Digital Library



(النحل: 43) د لاسته راوړنو تحلیل د پوهانو، متخصصینو له خوا باید وشي، چې نتیجه یې د راتلونکو پریکړو لپاره ارزښتناکه وي.

## د مهارتونو وده:



د مهارتونو وده هغه پروسه ده چې د افرادو ظرفیتونه، تخصصونه او وړتیاوې لوړوي څو په خپل مسلک او ژوند کې غوره فعالیت وکړي. دا وده د زده کړو، روزنې، او عملي تجربو له لارې تر سره کېږي. تخنیکي او حرفوي زده کړې لکه خیاطی، برقي کار، کمپیوټر زده کړه خصوصا د word پروگرام او نور مهم موضوعات دی. د ژوند مهارتونه لکه اړیکې جوړول، وخت مدیریت، ستونزو حل کول او نور. بله مهمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



موضوع دوامداره زده کړه د نویو مهارتونو زده کړه د وخت سره سم ده او د بازار اړتیاوو سره سم مهارتونه ترڅو خلک د کار موندني ښه فرصت ولري. د مهارتونو وده د شخصي او ټولنیز پرمختګ بنسټ دی چې د اقتصادي ثبات او ځان بسیاینې لامل ګرځي.قرآن کی الله تعالی فرمایی: وَأَعِدُّوا لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ یعنی"او چمتو کړئ د هغوی لپاره هر څه چې وس لرئ له ځواک څخه." (الأنفال: 60)

مهارت وده یو ډول چمتووالی دی چې ملت پیاوړی کوي.

## د مالیاتو تخفیف:

د مالیاتو تخفیف هغه پروسه ده چې حکومت د ځانګړو خلکو، شرکتونو، یا سکتورونو له خوا د ورکړل شویو مالیاتو اندازه کمه کوي یا ځینې



(c) ketabton.com: The Digital Library



مالیاتي امتیازات ورکوي. هدف یې د کاروبارونو هڅول، پانګونه زیاتول، او اقتصادي وده ده.

حدیث شریف :"من خفف عن مؤمن کربة من کرب الدنیا خفف الله عنه کربة من کرب یوم القیامة"

"چا چې له یوه مؤمن نه د دنیا یوه ستونزه لیرې کړه، الله به د قیامت یوه لویه ستونزه ترې لیرې کړي." (مسلم)

مالیاتي تخفیف هغه ته ورکړل شي چې مستحق وي، دا د اسلامي رحمت او عدالت له اصولو سره سمون لري.

د مالیاتو تخفیف ګټې:

د نوي کاروبارونو د پیل لپاره اسانتیاوې برابرول

د تولید او خدماتو د پراختیا هڅول

د خلکو او شرکتونو مالي بار کمول

د پانګوالو جذب او د بازار سیالۍ زیاتول

د بې وزلو او کمزورو سکتورونو ملاتړ

حکومت کولای شي ځانګړي تخفیفات د وخت په اساس یا د ځانګړو شرایطو له مخې ورکړي، لکه د نوو پروژو لپاره، یا د ځوانانو، ښځو او کوچنیو کاروبارونو لپاره ځانګړي امتیازات.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلطنت (اسلامی اقتصاد)

## مکتوب:

مکتوب یوه رسمي لیکنه ده چې د یو شخص، ډلې، یا ادارې له خوا بل شخص، اداره، یا دفتر ته د کوم هدف لپاره استول کیږي. مکتوب کې معمولاً خپل هدف، غوښتنه، یا وړاندیز په واضح او منظم ډول وړاندې کیږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

سلطنت (اسلامی اقتصاد)

مکتوب کې باید لاندې ټکي شامل وي:

د لیک عنوان (موضوع)

د مخاطب نوم او د هغوی مقام

د لیک د استولو نېټه

د لیک شروع (سلام او درناوی)

د مکتوب اصلي محتوا (غوښتنه، شکایت، وړاندیز، تشکر او نور)

د پای خبرې (مننه او ښه هیله)

د لیک استوونکي نوم، دنده، او تماس

معرفی هغه برخه ده چې په کې خپل ځان، خپله اداره یا پروژه په مختصر او واضح ډول بل لوري ته معرفي کوو. د معرفی هدف دا دی چې مخاطب ته وضاحت ورکړل شي چې لیک استوونکی څوک دی او د لیک موخه څه ده.

معرفي په مکتوب کې لومړنۍ برخه وي، چې له سلام وروسته ځايږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عملي آنلاین کاروبارونه




1. د فیسبوک بازار (Market) کې پلور
2. د یوټیوب چینل جوړول (تعلیمي، دیني، معلوماتي...)
3. آنلاین تدریس (ژبانونه، کمپیوټر، مکتبي مضامین، حفظ ، تجوید)
4. د ګرافیک ډیزاین خدمتونه
5. د لوګو او پوسټ جوړونه
6. د سوشل میډیا مدیریت (Page Handling)

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلطنت (اسلامی اقتصاد)

7. د ویب‌سایت یا بلاګ جوړول

8. د Affiliate Marketing (د محصولاتو بازار موندنه)

9. د Amazon, eBay, Etsy لپاره Dropshipping

10. د آنلاین فروش ویب‌سایت جوړول (کپړې، کتابونه، خوراکي توکي...)

11. د ژباړې خدمتونه (انګلیسي، عربي، فارسي...)

12. د Resume یا CV جوړول

13. د مجازی دفتر (Virtual Assistant) خدمتونه

14. د کتاب لیکنه او PDF فروش

15. د آنلاین مشورې ورکول (حقوقي، تعلیمي، رواني...)

16. د App یا Software پراختیا او جوړونه خلکو ته

17. د Coding یا Programming تدریس

18. د لیکوالۍ او Article لیکلو خدمتونه

19. د Mobile Photography زده‌کړه او پلور

20. د آنلاین کورسونو جوړول او پلور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کورنیو محصولاتو ملاتړ:



د اقتصاد خودکفایي لپاره داخلي تولیداتو کارول د بهرنیو وارداتو اړتیا کموي او د هېواد اقتصادي خپلواکي پیاوړې کوی.او همدارنگه د کورنیو شرکتونو او فابریکو ملاتړ د کار پیدا کولو زمینه برابروي، په ځانگړې توگه د ځوانانو او ښځو لپاره. د بازار اړتیا ته په پام سره، داخلي فابریکې کیفیت لوړوي، تولید پراخوي او نوې ټیکنالوژي جذبوي چې د کورنیو محصولاتو د کارونې له لارې بهر ته د ډالرو تگ کمېږي او د اسعارو ذخیره پیاوړې پاتې کېږي. د کورنیو تولیداتو پرمختگ به د نړیوال بازار لپاره هم زمینه برابره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ملاتړ لپاره کورنیو توکو ته ځانګړی بازار جوړول. د مالیاتو معافیت یا کمښت. د کیفیت لوړولو لپاره فني ملاتړ. د عامه پوهاوي رسنیز کمپاینونه. دولتي ادارو ته د کورنیو توکو کارولو مکلفیت مهم دی. حدیث کی رسول الله ﷺ وفرمایل:

"المؤمن للمؤمن كالبنيان يشد بعضه بعضاً."

"مؤمن د بل مؤمن لپاره د دېوال خښتې دي چې یو بل مضبوطوي." (بخاري 481، مسلم 2585)

نو د داخلي تولید ملاتړ د خپل اقتصاد، خپلواکي او اسلامي ورونو ترمنځ همکارۍ ته لاره هواروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د تولید زیاتولو لارې:




د ټکنالوژۍ نوي وسایل کارول ترڅو تولید چټک او معیاري شي. کارکوونکی باید تخنیکي زده کړی، مهارت لوړونه، او د ښه کار اصولو سره آشنا شی. همدارنګه د وخت مدیریت لپاره تولیدي بهیر ته منظم مهالوېش ورکړل شی. او د کیفیت کنټرول لپاره خراب تولید څخه مخنیوی وشی تر څو بازار ته لاسرسی آسانه او د بازار غوښتنې سره سم تولید او بازارموندنه وشی. د انرژۍ مصرف کمول او د بدیل (سولر) سرچینو کارول هم یو مهمه نقطه ده. د فابریکو جوړښت لپاره باید د لګښتونو کنټرول او مالی شفافیت وشی. د دولتي ملاتړ جذب لپاره هم باید د پورونو، تعرفې معافیت، یا سبسایډۍ لپاره غوښتنه وشی تر څو نړیوال بازارونو ته صادراتو پراخ شی. تولید زیاتیدل (برکت او پراخوالی)

الله تعالی فرمایی (لَئِن شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ) یعنی"که شکر وکړئ، نو زه به خامخا تاسو ته نور هم زیات کړم." (ابراهیم: 7)

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله ﷺ وفرمایل: "الید العلیا خیر من الید السفلی."

"لوړه (ورکوونکې) لاس تر ټیټې (غوښتونکې) لاس غوره ده." (بخاري 1429، مسلم 1033) زیات تولید، ځان بسیا کوي، بل ته هم ورکوونکی جوړوي، چې دا د اسلامي اقتصاد روح دی.

## عرضه او تقاضا د اسلام له نګاه




الله تعالی فرمايی( فَوَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ )تفسیر: هغه کسان چې په اندازه کې کمښت کوي، الله تعالی ته ناخوښه دي. دا د عرضه او تقاضا اصولو څخه سرغړونه ده او همداسی الله تعالی فرمايی (وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ ) تفسیر: الله تعالی امر کوي چې د خلکو حقونه مه کموي. دا د تقاضا د عدالت لپاره مهم دی. بل آیت کی الله تعالی فرمایی :(وَأَقِيمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ ) تفسیر: الله تعالی امر کوي چې په وزن کې انصاف وکړئ. دا د عرضه د عدالت لپاره مهم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځم آیت: (وَأَوْفُوا الْكَيْلَ إِذَا كِلْتُمْ ) تفسیر: الله تعالی امر کوي چې کله اندازه کوئ، نو پوره اندازه وکړئ. دا د بازار د توازن لپاره مهم دی.

## د بازار تعادل د اسلام له نګاه



الله تعالی امر کوي چې (وَأَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ) په اندازه او وزن کې انصاف وکړئ. دا د بازار د عدالت لپاره مهم دی.پیغمبر ﷺ فرمایي چې څوک چې دوکه کوي، زمونږ څخه نه دی.

دوهم حدیث: عن النبي ﷺ قال: "رحم الله عبداً سمحاً إذا باع، وإذا اشترى، وإذا اقتضى."

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیغمبر ﷺ فرمايي چې الله تعالی هغه بنده ته رحمت کوي چې کله خرڅوي، کله اخلي، او کله پور اخلي، نو نرم وي. دا د بازار د عدالت لپاره مهم دی.

دریم حدیث: عن النبي ﷺ قال: "لا يحتكر إلا خاطئ."

پیغمبر ﷺ فرمايي چې څوک چې احتکار کوي، هغه ګناهګار دی.

څلورم حدیث: عن النبي ﷺ قال: "المسلمون على شروطهم."

تفسیر: پیغمبر ﷺ فرمايي چې مسلمانان باید خپلو وعدو ته وفادار وي. دا د بازار د توازن لپاره مهم دی.

 ۴. پایله

د عرضه او تقاضا اصول په اسلامي اقتصاد کې د بازار د توازن، عدالت، او انصاف لپاره مهم دي. قرآن کریم او احادیثو کې د دې اصولو رعایت کولو ته تاکید شوی دی. مسلمانان باید د بازار د اصولو رعایت وکړي، تر څو د الله تعالی رضا حاصل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سهامي شرکتونو جوړښت ( Joint-stock companies (structure




سهامي شرکت يو داسې شرکت دی چې پانګه‌وال (سهامداران) يې د شرکت د پانګې يوه برخه (سهام) لري. دا ډول شرکتونه معمولا د پانګې د راټولولو غوره لاره وي، ځکه خلک کولی شي سهام واخلي او د شرکت پانګوال شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د سهامي شرکت جوړښت**

1. عمومي اسمبله (General Assembly): د ټولو سهامدارانو استازيتوب کوي. مهمې پرېکړې کوي، لکه د ګټې وېش، اجرايوي رييس ټاکل او نور.

2. د مديره هيئت (Board of Directors): د شرکت د مديريت د پاليسۍ جوړونه کوي او اجرايوي مشرتابه ته مشوره او لارښوونه ورکوي.

3. اجرايوي مشرتابه (Executive Management): د شرکت ورځنۍ فعاليت پرمخ وړي. اجرايوي رييس (CEO)، مالي رييس (CFO)، عملياتي رييس (COO) پکې شامل دي.

4. محاسبوي او نظارتي واحدونه (Audit & Compliance): د شفافيت او حساب ورکولو لپاره د مالي چارو ارزونه کوي.

5. سهامداران (Shareholders): د شرکت مالکين دي. په ګټه، ضرر، او رايه ورکولو کې برخه لري.

**د سهامي شرکت ډولونه**

1.عام سهامي شرکت (Public Joint-Stock Company): سهام يې په عامه توګه پلورل کېږي (مثلاً د سټاک بازار له لارې). د پانګې زياتولو لپاره خورا اغېزمن دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلطنت (اسلامی اقتصاد)




2.خصوصـــي ســهامي شــرکت (Private Joint-Stock Company):
سـهام يـوازې محـدودو کسـانو يـا بنسـټونو تـه ورکـول کيږي.قـوانين يـې لـږ سخت وي نسبت عامو شرکتونو ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اسعارو سیاست (Monetary Policy) په اسلامي اقتصاد کې




۱. اسعارو سیاست څه شی دی؟

